# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیر سید عبدالقادر


۲۹ می ۲۰۱۲

## دافغانستان داوسني لانجي دسياسي حل ميکانيزم !

تـــول بـــدن مي سره لمبه ســووپه لمبوکي دپـردو
ژر مـي وژغـــوري چه سوځـم لاس ميونيسي بچـو
تـــوره شپه بـه ژرصبا سي  بيـا اتل بـه دميدان سم
لوړ به سر زمـا ښکاره سي د پامـير تر ځـګو غرو

**دوهمه برخه: مقدمه ـ دسياسي حل ميکانيزم !**

مخکي تردې چي دسياسي حل دميکانيزم او د مقدمي پهاړوند يي دخپل نظر څو تکي وړاندي کړم ، لازمه مي وبلل چي وليکم چي زه دامريکااو غربي نړي دواکمنانو وروستنی څرګندونو چي دافغانستان څخه دخپلولښکرو د ايستلو په هکله يي کړي او کوي يي په تعجب کي واچولم ۰ داځکه چي ددي واکمنانودتيرو لسو کلونو د تکبر ، بي ځايه غرور، وحشت او جنايت څخه ډکو کړونو او بيا په اوس مهال کي په يوه او بلـه بڼه ددوي د ښکاره ماتي ړغونه ، ماته داوباما ديوه پخواني ملګري او ليکوال ( ويليم آر ـ پوليک) هغه لوي ليک راپه ياد کړ، کوم چي د ۲۰۰۹ کال په ورستنيو مياشتو کي يي اوباما ته دافغانستان له پاره دامريکا دنوي ستراتيژي دجوړولو پر وخت هغه ته ليږلي وو ، او دليک په يوه برخه کښي داسي ورته ليکلي وه :( ځيني بهرنيان لـه اشغال سوو سيمو څخه تر ناکامی وروسته وتلي دي ، خوځيني بيا په دې پلمه بيرته وزي ، چه ګواکي نور خپل هدف ته ورسيدل ،او دپاتيدو اړتيايي نسته ۰ زه بـاورلرم چه امريکا اوس هم په افغانستان کي خپل هدف تـه درسيدو فرصت لـري۰ اوبيا داسي مختـه ځي : داخو خورايځ فکر دي چه بغاوت دی پـه يوه هيواد کي داشغال کوونکو دلاس پوځي حکومت په راوستلو پاي ته ورسيږي ۰ که اوباما د خپل ملګري ( ويليم آر ـ پوليک ) ليک په دقت لوستي واي او د هغه د وړانديزونوديلي کيدو لـه پا ره په هغه وخت کي پر ځاياو چټک ګامونـه پورتـه کړي واي ، نو بـه نـه يوازي پـه اوس مهال کي پـه دي لوړه کچه دامريکا ولس دداسي ستونځو سره لاس اوګريوا ن واي بلکه پـه

افغانستان کي به هم دامريکا تر رهبري لاندي دناټو قواوودونه پراخ بشري او اقتصادي جنايات نه ترسره کولاي او د نړي په ولسونو کي به هم دغربي نړي په وړاندي د سياسي تنفر فيصدي دونه لوړي کچي ته نه رسيدلاي٠
او هم د ۲۰۱۰ کال د جولاي پر ۳ دامريکا په کانګريس کي د امريکا ديوه مشهور سياستوال او استازي ( ران پاول ) دخپلي بيانيي په يوه برخه کي داسي ويلي دي : زموږ مشرانو پر عراق باندي دحملي له پاره موږ ته درواغ ويل او دافغانستان دنيولو له پاره موږ هم خطا ايستلو٠آيا موږ ته ددې جنګ دپراخولوپه حصه کي يو ځل بيا هغسي درواغ نه ويل کيږي لکه په ۱۹۶۰ لسيزه کي چی دويتنام دجنګ دپراخولو پر مهالراته ويل کيدل ؟ مخ ته ځي او وايي :
هو ، دا واضح ده چی په افغانستان کی پوځی ماتي زموږپه برخه ده . د تګلاري يا تګلاري جوړونکو د بدلون څخه پرته يوازی د جنرالانو بدلون زموږ مصيبت نور هم هميشنۍ کوی او صرف هغه څه ځنډوی چی هرومرو پيښيدونکۍ دئ .
دا هغسی جګړه نه ده چی زموږ جنرالانورته روزل سوي وو . دولت جوړونه ، د پوليسو کارونه ، ټولنيزی جوړونی هيڅکله هم د بهرنيو نيونکو دندی نه دي او نه هم دا د هغوپوځيانو کار دی چی د جګړي د ګټلو لپاره روزل سوي وي.
په داسي حا ل کي دامريکا واکمنان د پورتنيو امريکايي سياست والو وړانديزونو ته د چل او چم سرهيو ځاي ځا نونه نيژدي کوي ، چی نيژدي ټول فرصتونه يي دلاسه ورکړي دي ٠ او داسی معلوميږي چی دوي هڅه کوي چی لږ تر لږه دخپلي سياسي او اقتصادي ماتي تلافي وکړي ٠او د خپلي امپراتوري دچپه کيدو وخت يو څه اوږد کړي ٠ چی دانو په واقعيت کي ( خواب است ، محال ا ست وجنون ) ٠ او دا رنګه دامريکا د(وسکن سين) په پوهنتون کي دتاريخ پروفيسر (الفردو يليام مک کوي) د۲۰۱۰ کال په ديسمبر کي په يوه مقاله کي هم داسي ليکلي دي ٠ ( چی دامريکا دامپراتوري نسکوريدل را نيژدي سوي دده په وينا ديوه زبر ځواک په توګه دامريکا نسکوريدل تر هغه ډير نيژدي دي چی تاسو فکر کوي ٠ دده دا ټکل له مخي امريکا به ديوه زبر ځواک په توګه تر(۲۵ ۲۰) کال پوري به نسکوره سي) ٠ ځکه نو دامريکا د تيري لسيزي د بيساري بشري او اقتصادي جنايتونو څخه ډکو کړونو په پايله کي په غربي نړي کي نه يوازي دجګړي پر ضد جوړښتونه را منځ ته سول بلکه دسرمايه داري نظام دبي عدالتي و په وړاندي د ( والستريټ ونيسي ) تر نامه لاندي نوي جنبش هم ځان نړيوالو ته ښکاره کړ ٠ چی کرار کرار دي جنبش دغربي اروپا څخه هم خپل سرونه راپورته کړل ٠ او د شيګاکوپه ښار کي دناټو دلويي جلسي په وړاندي ددې جنبشونو په لسګونو زرو خلګو اويو شمير هغه سربازانو چی په افغانستان او عراق کي يي دجنګ پر مهال ميډالونه ترلاسه کړي وه ، ګډون کړي وو ٠ او د مظا هري ټول ګډون کوونکو دجنګ پر ضد سخت شعارونه او ځينو بيا سختي بيانيي ورکولي ٠ چی دپوليسو دسخت غبرګون سره بيا هم دوي شاته تګ ونه کړ ٠ چی دمظاهري د ګډونوالو سربازانو دجملي څخه يوه داسي وويل : نن زه دا مډالونه بيرته مسترد کوم دا ځکه چی غواړم دخپل وجدانه سره ژوند وکړم ، نه دا چی د خپل ضمير بندي سم ٠ زه دعراق او افغانستان دخلګو څخه بخښنه غواړم چی وطن مو ور خراب کړي دي ٠
داسي معلوميږي چی په اوس مهال استعماري ځواکونه دافغان يرغمل ولس له پارهلاندي دري لاري (وريانتونه) په نظر کيلري ، چی دا نو دافغان ولس دملی ګټو په نظر کي نيولو سره په رښتني مقاومت پوري اړهلري چی لاندي دريمه لاره ( دريم وريانت ) ځانته غوره کړي ٠

۱ــ د امریکایي پوځي دایمي اډو دشتون لاره ۰ دا لاره دلنډ وخت لـه پـاره دامریکـا پـه ګټـه ولـي پـه افغانستان او منطقه کـي بـه داورونـو لمبي نـوري هم ډیري او دافغـان ملـی شتمني بـه ټولـه دبهرنيـو کړيـو او کورنيـو ارتجـاعي اقتصادي جنايتکارانوومنګولو ته ولويږي ۰

۲ ـــ دافغانستان څخـه دتېو لـو يرغلي قواوو شاته تـګ او افغـان ولـس وکورنـي جګړي تـه ټيلـه کـول ۰ دالاره هم دافغـان ولـس دبيساري بشري او اقتصادي تلفـاتو لاره ده ۰ چـی دابـه نـودغربي نړي بل لـوي جنايت وي چيکـه دافغان ولس په وړاندي يي تر سره کړي ۰

۳ ـــ د افغان وسله وال مقاومت سره دسیاسي روغي جوړي لاره ۰ دا هم هغه لاره ده چی نه یوازي افغان ولـس د درولسیزو د جنـګ څخـه خلاصيږي بلکـه غربـي نـړي بـه پـه افغانستان او منطقـه کـي بيـا هم دپښني ايښـولوځاي ولري.

دپورتنيو څرګندونو په نظر کي نيولو سره که د افغانستان اوسنيو بدو امنيتي ګواښونو ، سختو اقتصادي ستونځو ، د اداري فساد لوړي کچي او پر يرغمل سوي ولس بانـدي پـه ښـارونو او محلاتـو کـي ديرغلـي ځـواکونو ، جنـګ سـالارانو او دغربينړي څخـه راغلـي تيکنوکراتـانو روحـي اوفيزيکـي فشـارونو او هـم ددوي دجـوړ کـړي قـانون د حاکميت په مقابل کي د دوي مقاومتونواوسر لغړونو اود بله طرفه دچوکي ، مادي امتيازونو او هم دملـي شتمنيو د تقسيم پر سر باندي د دوي تر منځ شخړو او جنګونو ته دملي ګټو په نظر کي نيولو سره په لږ دقت نظر واچوو ، په واقعيت کي دهر هغه افغان چه د وطن سره مينه او هغه خپل افغاني تاټوبي بولي ، وجدان ته يي داسي يو تکـان ورکوي چه په غبرګون کيبي دفعتاً په ذهن کي داسي سؤال ځاي نيسي چه :

آيا دا نا معلومه جګړه چه دبهرنيو کړيوله خواه زموږ پر جنګ ځپلي ولس باندي تحميل سوي ده ، چه ادامه يي نـه يوازي دافغان ولس دبشري تلفاتو ،اقتصادي بيسارو ورانيواو دملـي شتمنيو تـاراجولو سبب ګرځـي ، بلکـه دمنطقي امنيت يي هم دګواښونوسره مخا مخ کړي اونن و نړيوال امنيت ته ديو ستر ګواښ په څير ځان څرګندوي تر کومـه به ادامه ولري ؟

ځکه نو د سالم سياسي تعقل خاوندان بايد دداسي يوي لويي فـاجعي مخـه ونيسي چـه هغـه نـه يـوازي دافغانستان دقومونوتر منځ بلکه دمنطقي دهيوادونـو تـر منـځ هم ددښمنيو دروازي خلاصـوي ،او د اور ولمبو تـه يـي ورپـوري وهـي ۰ زه خپلـه ددي صـلاحيت نـه لـرم چـه دپورتنـي اساسـي سؤال پـه جـواب کـي دې پـه هـر اړخيـز ډول داسـي دسياسي حل يوميکانيزم وړاندی کړم ، چه دهغه په عملي کيدو سره دي دافغانستان اوسني نا آرامو حالاتو ته دپـاي ټکي کښيږدي ۰ ځکه نو دا وظيفه دافغان ملي ډموکراتيک ګوندونو ، ملي سياسي کار پوهانو اوټولو پـر وطـن مينـو روشنفکرانو ده ، چه دافغانستان دلانجي دسياسي حل ميکانيزم بيله ځنډه دوخت او ولس دغوښتني سره سم ديوه اساسي هدف په توګه وخپل مخ ته کښيږدي ،اوخپل تر منځ دي په دي هکله ژر ترژره دتفاهم لړي شروع کړي.

ولي داملي ګوندونه او ملي شخصيتونه بايد هر ډول دنظر ليريوالي ددغه ستر حياتي مقدس هدف دپـاره يـوه طـرف ته پريږدي ، او ژرتر ژره دي دسياسي حل دميکانيزم تـر بيرغ لانـدي سره يو موټي سـي ۰ولـي بايد ووايو چـه متأسفانه ديوشمير افغـاني ګونـدونو پـه رهبـري کـي داسـي کسـانو ځـاي نيـولي دي چـه شخصـي ګټـي يـي داشـغال دپروسي او د لاس پوځي حاکميت سره نغښتي دي ۰ شايد پـه دي مقدسـه لاره کـي داسـي ګوندونـه ددي ب‍هير څخـه ځانونـه ليري او يا پـه يوه او بله بنه خنډونه هم جوړکړي ، چه دابه په واقعيت کي دافغانستان دملي ګټو پـه وړانـدي ددوي يو ښـکاره دريځـوي ۰ ځکـه نـو بايد پـه ډير جديت سعي اوتـلاش وسـي چـه پـه دې هکلـه دهـر نـوع منفـي نظرياتو مخه ونيول سي کوم چه ددې مقدسي پروسي دځنډ سبب ګرځـي ۰ بايد ووايـو چـه پـه اوس مهـال کيـدنړي

دسیاسي او اقتصادي شرايطو څخه هم داسي معلوميږي ، چه كه هر څونه ژرددی حیاتي هدف لـه پاره سعي اوتلاښ وكړل سی په هغه اندازه به په افغانستان او منطقه كښي بشري ناورين تـه دپايټكي ايښول سوي ، دافغان ولس ګټي به خوندي ساتل سوی او د ریښتیني ولس واكي له پاره به هم پراخه زمينه رامنځ ته سوي وي ۰ ځكه نو ضرور او لازمي ده چی ژر تر ژر ه په كابل كي يو بين الا ا فغاني كنفرانس جوړ چی په دې كنفرانس كي نه يوازي د سياسي حل د ميكانيزم پر وړانديزباندي پريكړه وسي بلكه په دې كنفرانس كي بايد يوكميسون هم وټاكل سي ۰ چی د هم دغه منتخب كميسون په ذريعه دميكانيزم وړانديز ملګروملتونو ، دامريكا تر رهبري لاندي نړيوالي ټولني او دوسله وال افغاني مقاومتورهبريو تـه وسپارل سي ۰ چی ددې كنفرانس ابتكار بايد ملی ډموكراتيک ګوندونه او ملی مستقل سياسي كار پوهان په لاس كي واخلي ۰ ولي دا هم بايد په ښكاره وضاحت دجنګ دواړو خواوو ته توضيح او وويل سي، چه دواړه طرفه بايد دخپلو هغو غير عملی دريځونو څخه لږ څه شاتهول اړ سی کوم چه په افغانستان او منطقه كښی د صلح دراتلو دخنډ سبب ګرځی ۰د مثال په ډول :

امريكا او ددوي لاس پوڅي دولت بايد داشرط دوسله وال مقاومت په وړاندي ليري كړي ، چه هغوي دي دافغانستان اساسي قانون ومني او وسله دي پر مځكه كښيږدي بيا دي نو دخبرو وميز ته حاضر سي ۰ چه دا نوپه واقعيت كښي دمذاكرو له پاره شرط نه بلكه په ښكاره ډول دتسليمي معني لري ۰

ولي وسله وال مقاومت هم بايد دمذاكرو څخه وړاندي دملی ګټو په پام كينيولو سره داسي شرطونه ليري كړي، چی هغه د مخامخ خبرو او مذاكرو دخنډ سبب ګرځي ۰

دافغاني منتخب كميسون دوړانديزله مخي دي د ملګري ملتونواداره بايدپه دې حساسو شيبو كي ودې تـه وهڅول سي چی دامريكاتررهبري لاندي نړيوال ائتلافي ځواک ۰دافغانستان وسلوال پوځ او ددولت په مقابل كي وسله وال مقاومت بي له قيداوشرطه اوربند اعلان اودملګرو ملتونوله خواه دي دواړه طرفه دمذاكري لـه پاره و نړيوال كنفرانس ته راوبلل سي۰

دسياسي حل دميكانيزم له پاره ځيني اساسي ټكي :

۱ ــ ددې نړيوال كنفرانس افغاني ګډون كوونكي بايد دافغانستان داوسني حاكميت اوددوي په مقابل كي د وسله وال مقاومت سربيره يو تعداد آزاد پر وطن مين په داخل او بهر كښی سياسي كارپوهان ، دملي ډموكراتيكو ګوندونواستازي اويو شمير په ولس كي محبوبشخصيتونه وي۰

۲ ــ دا نړيوال كنفرانس بايددهيڅ يوه بهرني هيواد دنظامي ، سياسي اواقتصادي اغيزي لاندي نه وي۰

۳ ــ دبهرنيو قواوودوتلو زماني جدول دي داسي جوړكړل سي ، چه هيڅ نوع بي امنيو ته مخه خلاصه نه كړي۰

۴ ــ كه د بهرنيو قواوو دوتلوپر سر اوزماني جدول باندي خبرو ځان تـه مشكله بڼه اختيار كړل ، نوپه هغه صورت كي دي ددغه ټاكلي وخت دپاره دملګرو ملتونو دصلح ځواک او يادي داسلامي نړي دهيوادونوڅخه نظامي پوځونه راوغوښتل سي. ولي په هم دغه ټاكلي وقفه كي بايد په مملكت كښی ټولي غير قانوني سلاحوي دهر ګروپ اوخصوصي امنيتي شركتونو څخه چه وي راټولي اودملي دفاع او كورنيو چارو وزارت ته وسپارل سي۰

۵ ــ دا نړيوال كنفرانس بايددافغانستان دملي ګټو په نظركي نيولو سره نوي لنډ مهاله اداره جوړه اوترراتلونكي لويي جرګي ترجوړيدو پوريدي دولتي چاري مخته بوزي۰

۶ ـــ داکنفرانس باید پر نړیوالي ټولني باندي زورواچوي چه دراتلونکو پینځو کلونودپاره بي له قیده اوشرطه خپلو اقتصادي کومکونوته ادامه ورکړي ۰ ولي دهرکال په اخر کښي باید دپیسو دمصرف دقیق راپوروخیستل سي اودنوي کال اقتصادي کومک پیسي دي ددولت په واک کي کښیښول سي۰

۷ ـــ ملګري ملتونه باید دامنیت شورا ته وظیفه ورکړي چه په راتلونکو وختونوکي دافغانستان په کورنیو چارو کي کوم بهرني هیواد مداخله ونه کړي ۰او په دي هکله دي دافغانستان نوي دولت ته نړیوال تضمین هم ورکول سي ۰

۸ ـــ د افغانستان نوي>

...

۲۰۱۲/۰۵/۲۸

***یادداشت:***

*لازم به یادآوریست، همان طوری که در اهداف نشراتی پورتال تذکار یافته است، نشر یک مطلب هیچگاهی به معنای تأئید آن از طرف پورتال نمی باشد.*

*به ارتباط این مطلب از همکار گرامی ما آقای "انجنیر سید عبدالقادر" توقع داریم تا بیشتر در ماهیت سازمان ملل و شورای امنیت و وابستگی غلیظ کشور های به اصطلاح اسلامی به امپریالیزم و صهیونیزم غور نموده، در ارزیابی های شان، دستان و دامن پرخون آن نهاد ها و کشور ها را که اکنون به چماق امپریالیزم جنایت گستر امریکا جهت سرکوب مخالفان آن قدرت اشغالگر مبدل شده اند، از دیده فرو نگذارند.*

*ادارۀ پورتالAA-AA*